AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۱/۰۱/۰۶

# د معرفت ډیوې

له ښــاره وځـم، ویرانو کې یو انســـــان لټوم
د خپل دردمن زړګــي د پاره مې درمــــان لټوم

چې په وینا یـــې روښــــانیږي ،کوردلانو زړونه
په رمــوزاتو باندې پوې ، صـــــاحـــبدلان لټوم

چې په لیدو یې ، د انسان روح او روان شي تازه
زه هغه در، هغــــه یاقوت، هـــغه مرجان لټوم

چې په موزون کلام کړي وییلي، سنګدلانو زړونه
خاوند دحـــــــال او نکته سنجه، سخندان لټوم

هغه مانوس چې په اسرارو باندې پوې شي د زړه
د زړه په درد داسې آشنــــــا او راز دان لټوم

چې د کلونو تربګنـــــــــیو، دښمنان کړي، پخلا
داسې خوږ من ، په زړه درد مـن، او مهربان لټوم

چې راته وبخــښي ، د زړه او د ضــمیر روښنایي
د مـــــــــعرفت په ډیوې، ســــوې پتنګان، لټوم

چې د حـــــکمت خبرې واورم د عــبرت په غوږو
د بو علي په څیر په پوهـــه، حـــــــــکمتدان لټوم

چې د حـــکمت څـلې یې جګه، په آسمان لګیږي
زه هغــــــه باز ، هغــه شاهین ّ هغه طیران لټوم

هرخوا چې ګورمه دیوان دي ،په صورت د انسان
د مــــــعنویت په نور، سپیــڅلي مخ، روښان لټوم

د نفس هوی په ګونډو کړي، قـافلي ســــــالا ران
هوی دنفس باندې غالب، پهــــــــلوانان، لټوم

ډیر زهیر کړی دي ژوندن یمه، دیوانــــــو سره
د یو ریښتیني ژوند دپاره، بل جـــــــهان لټوم

داچې په سپینـــه ورځ کې سر، په ویرانو یمه زه
له څنــــــګه تللي ، د افسوس هغه کاروان ، لټوم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ